# كله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له جنابت څخه غسل کاوه نو، لاسونه يې ومينځل او لکه د لمانځه په څېر اودس يې وکړ، بيا يې غسل وکړ

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: كله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له جنابت څخه غسل كاوه نو، لاسونه يې ومينځل او لكه د لمانځه په څېر اودس يې وكړ، بيا يې غسل وكړ، بيا يې د ويښتانو کې ګوتې ننباسلې تر دې چې ډاډه شو چې لاندې پوستکی يې لوند شو بيا يې درې ځلې (مخ ته) اوبه واچولې، بيايې ټول ځان ووينځه او فرمايلي يې دي، ما او د الله رسول صلی الله علیه وسلم به له يو لوښي څخه لامبل، دواړو به ترې لپې را اخېستلې.
[صحيح] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې كله غوښتل له جنابت څخه غسل وكړي نو د لاسونو پر وينځلو به يې پيل وكړ. بيا به يې داسې اودس وكړ لكه څنګه چې د لمانځه لپاره كېږي، بيا به يې ويښتان په لاسونو سره خلال كړل، تر دې چې ډاډمن به شو چې د ويښتانو بېخونه لانده شول او مخ ووينځل شو، بيا به يې په سر درې ځلې اوبه واړولې او د بدن پاتې برخه به يې ومينځله. او عايشې رضي الله عنها فرمايلي چې: ما او رسول الله صلی الله علیه وسلم به له يو لوښي څخه لامبل، دواړو به ترې لپې راډکولې.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee